سلطان جان کلیوال

۲۰۱۸/۰۷/۳۰

# مخکی له دی چی .......!

پخوا له دی نه چی قیامت راشي
مخکی له دی چی سمندر وچ شي
پخوا له دی چی غرونه و جنگیږی
مخکی له دی نه چی گودر وچ شی
یوکرت بیاراته را غاړیوزه پخلا شه اشنا
یو کرت بیا لکه چی وی هسی زما شه اشنا

.......

پخوا له دی چی د اسمان ستوری تکر شی سره
مخکی له دی چی په جهان باندی تیاره خوره شي
پخوا له دی چی سپوږمی ویلی شی قطره قطره شی
مخکی له دی چی ځمکه ماته شی ایره شی
یوکرت بیا راته زړگي راته جانان ووایه!
یو کرت بیا راته خندا کی گران و وایه!

.......

پخوا له دی چی دا گلونه خاوری شی
مخکی لـه دی چی چمنونه پـه صحرا واوړی
پخوا له دی چی مینه کرکی ته خپل ځای پریدی
مخکی لـه دی  چی خنداگانې  په ژړا  واوړی
یـو ځلـی بیا راتـه نظر پـه زړو سترگو وکـړه
یوځل د مات زړه ننداره په مړو سترگو وکـړه

.......

جانانه گوره هری ورځی ته ماښـام شته دی
هری اوږدی لاری ته ختم شته انجام شته دی
د هر مغرور  غرور ماتیږی او زوال مومی
د هر مظلوم آه  و  فریاد  ته اختتام شـــته دی
پخوا له دی نه چی بی وسه شی خپل ځان سم کړه
خو دی توان وی عقیـده سـمه ایمـان سم کړه

.......

پخوا له دی چی پښـیمان شی ارمانی شی اشـنا
پخوا له دی چی بیا په بل اور کی ستی شی اشنا
دا پاتی ژوند په مینه تیر کړه کرکه مکړه له چا
چی وړ د مینی هم د خپل هم د پردی شی اشنا
مخامخ نه شی په ژوندون کی له قیامته سره
مخامخ نه شی نوی نوی مصیبته سـره.

.......

راځه چې روغه وکړو مخ د دښمنی تور کړو

راځه چې مینه وکړو رنګ د تربګنی تور کړو

راځه چې ورونه شو یو بل ته پت د مور وساتو

راځه همت وکړو عزت د ځواني خور وساتو

پخوا له دینه چې دښمن کړی غلامان دواړه

په ګډه وساتو دا ګران افغانستان د واړه.

می/۲۰۱۲
تورنتو ـ کانادا